مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۵/۱۲

# د سو لي فرشته

دآرزو ښـــــــــــکلی بهاره، ته به بیا کله راځې
د حــــــــــزین زړګي قراره ، ته به بیا کله راځې

ړندي شوی هغه سترګی چی به یي ستا لاره څارله
ستـــــــــــا له ډیره انتظاره ، ته به بیا کله راځې

د آرزو ګلان شول مړاوی ،بولهوسـو د خپو لاندی
ای د باغ و بڼ مالیـــــــــاره ،ته به بیا کله راځې

د قرار رسئ شلولي، د اوهامــــــــــو تورتمونو
د امید روښـــــــــان سهاره، ته به بیا کله راځې

له بیبیـــــــاکه بیدردانو ، د دردمن زړونو نه وینې
په رخســـــــار و کړله لاره ، ته به بیا کله راځې

ټول ښارونه سیـځل شوی ،په اورونو د نفاق کې
ای د ســـــــــو لي طرفداره ، ته به بیا کله راځې

د هوی هوس جګړې کی ،اختیـــارله مو نړه تللی
ای زمونږ واک و اختیـــاره ، ته به بیا کله راځې

ډیر کلونه د چــــــــمن نه ، د ماتم نغمې راځې
ای بلبل د شـــــــــاخساره ، ته به بیا کله راځې

مروره به تر څو یي ، ای د ســـــــو لي فرشتې
ستـــا په عشق کي یو بیماره، ته به بیا کله راځې

کال ۱۳۷۸پیښاور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ